# يُؤْتَى بِالْمَوْتِ كَهَيْئَةِ كَبْشٍ أَمْلَحَ

له ابو سعيد الخدري رضی الله عنه څخه روایت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «يُؤْتَى بِالْمَوْتِ كَهَيْئَةِ كَبْشٍ أَمْلَحَ، فَيُنَادِي مُنَادٍ: يَا أَهْلَ الجَنَّةِ، فَيَشْرَئِبُّونَ وَيَنْظُرُونَ، فَيَقُولُ: هَلْ تَعْرِفُونَ هَذَا؟ فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، هَذَا المَوْتُ، وَكُلُّهُمْ قَدْ رَآهُ، ثُمَّ يُنَادِي: يَا أَهْلَ النَّارِ، فَيَشْرَئِبُّونَ وَيَنْظُرُونَ، فَيَقُولُ: وهَلْ تَعْرِفُونَ هَذَا؟ فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، هَذَا المَوْتُ، وَكُلُّهُمْ قَدْ رَآهُ، فَيُذْبَحُ ثُمَّ يَقُولُ: يَا أَهْلَ الجَنَّةِ خُلُودٌ فَلاَ مَوْتَ، وَيَا أَهْلَ النَّارِ خُلُودٌ فَلاَ مَوْتَ، ثُمَّ قَرَأَ: {وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ} [مريم: 39]، وَهَؤُلاَءِ فِي غَفْلَةٍ أَهْلُ الدُّنْيَا {وَهُمْ لاَ يُؤْمِنُونَ} [مريم: 39]». "مرګ به د يو برګ پسه په څېر راوستل شي، يو اواز کوونکی به غږ وکړي: اې جنتيانو، دوی به غړ او سرونه راپورته کړي او ګوري به، وبه وايي: آيا تاسو دا پيېژنئ؟ هغوی به ووايي: هو، دا مرګ دی، پداسې حال کې چې ټولو مخکې ليدلی و، بيا به آواز وکړي: اې دوزخيانو، نو غړ او سرونه به راپورته کړي او ګوري به، وبه وايي: او آيا تاسو دا پيژنئ؟ هغوی به ووايي: هو، دا مرګ دی، په داسې حال کې چې ټولو مخکې ليدلی و، نو حلال به کړای شي، بيا به ووايي: اې جنتيانو، تلپاتې اوسئ؛ مرګ نشته، او اې دوزخيانو تلپاتې اوسئ مرګ نشته، بيا يې - دا آيت - ولوست: {وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ} [مريم: 39] او ته دوی د حسرت (او ارمان) له ورځې نه ووېروه کله چې به کار فيصله کړی شي، حال دا چې دوی (اوس) په غفلت کې دي، او دوی د دنيا خلک په غفلت کې دي {وَهُمْ لاَ يُؤْمِنُونَ} او دوی ايمان نه راوړي».

[(صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې د قيامت په ورځ به مرګ داسې راوستل شي لکه د پسه په څېر چې سپين او تور وي. نو غږ به وکړای شي: اې د جنت خاوندانو! دوی به خپلې غاړې او څټونه راوړده کړي او سرونه به راپورته کړي او ګوري به، نو ورته به ووايي: آيا دا پيژنئ؟ هغوی به ووايي: هو، دا مرګ دی، پداسې حال کې چې ټولو ليدلی او پيژندلی دی. بيا به آواز کوونکی آواز وکړي: اې د اور خاوندانو، نو څټونه او غړ به راوږدې کړي، سرونه به راپورته کړي او ګوري به، او و به وايي: آيا دا پيژنئ؟ هغوی به ووايي: هو، دا مرګ دی، پداسې حال کې چې ټولو مخکې ليدلی و؛ نو حلال به کړای شي، بيا به آواز کوونکی ووايي: اې د جنت اوسېدونکو، د تل لپاره ژوندي اوسئ، مرګ نشته، او ای دوزخيانو، د تل لپاره ژوندي اوسئ، مرګ نشته. دا - وينا - مؤمنانو ته په نعمتونو او کافرانو ته په عذاب کې د زياتوالي له امله کيږي. بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آيت ولوست: {وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لا يُؤْمِنُونَ} [مريم: 39] (او ته دوی د حسرت (او ارمان) له ورځې نه ووېروه کله چې به کار فيصله کړی شي، حال دا چې دوی (اوس) په غفلت کې دي او دوی ايمان نه راوړي) نو د قيامت په ورځ به د جنتيانو او دوزخيانو تر منځ جلاوالی راوستل شي او هر يو به خپل ځای ته د تل لپاره ورننوځي. نو بدي کوونکی به په نيکۍ نه کولو پښيمانه شي او کوتاهي کوونکی به هم پښېمانه شي چې ولې يې ښه عملونه زيات ندي کړي.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee